ډاکټر حرکت ۲۰۱۲/۰۶/۱۱

# د ځوانانو د سولې ملي جرګې
## ځخه دملاتړ پیغام او سپاربښتنه !

په افغانستان کې دغه اصطلاح ډېره مروجه شوې، چې «د خلکو زور د خدای زور دې. » دا خبره سمه ده، یواځې انسان دې، چې د خپل علمي استعداد په مرسته الاهي لوی طاقتونه، ځوک په خپله او ځوک د بل په ګټه په کار اچولې شي، خو ځما په عقیده او ګناهکار به نه شم، که ووایم، چې د خدای په مقضي اراده به هم، وروسته له خدای څخه، لوی زورور انسان به هغه کس وي، چې خپل کم طاقت، په خپله اراده، دخپلې پوهې په مټ، دخپلو ګټو لپاره، په کار واچوي. کله چې د ټولنيز قشر خبره مطرح کيږي، نو په هره ټولنه کې، د لوی طاقت؛ لوړ او عصري، علمي، تخنيکي درک او فهم؛ تحرک، Flexibility دوضعيت بدلون او ديناميزم او نوراوصاف خو يواځې په ځوانانو کې ليدل کېدې شي او په لوړ شاخص او افق کې قرار لري، نو په حقه «د ځوانانو زور د خدای زور» باید وګڼل شي.
کوچنيان، البته د راتلونکي په اعتبارد ځوانانو ملاتړي ګڼلې شو او زاړه سره ددې، چې د پخوانيوکيسو له مخې چا له کمرو غورځولي، چا د نفس د تزکيي په بهانه، ځنګل ته لېږلي دي، خو د اسلام په مقدس دين کې دغه ډول اعمال ناروا ګڼل شوي او مشرانواو خصوصاً والدېنو ته په زيات احترام او پېر زوينه، دا ډول تأ کيد شوي، چې: فلا تقل لهما اوفٍ ولا تنهر هماو قل لهما قولاً کريما « جز ۱۵ ،سورة بنی اسرائيل ، اية ۲۳» (ترجمه: مه وايه ته مور وپلار ته کلمه د اف او مه رټه دوی دواړه او وايه دوی دواړو ته خبره په نرمی او ادب سره) او نن زمونږ په ټولنه کې، د ځوانانو لپاره د لاربښووني او دعا ډاډ منه مر جع ګڼل کيږي. البته، ځمونږ ځوانان، نن د خپل فهم او پوهې په مټ، ددې قضاوت لري، په دې پوه شي چې کوم مشران ورسره په رښتينولی چليږي، او ځوک ورسره ټګي کوي.
نن، چې ځمونږ ځوانان له نيم قرن تأ مل څخه، د ځيني مشرانو څخه لار، بېلول او په نوي روح او تصميم سره خپله اراده په خپله ګټه عملي کول غواړي، د ځوانان په طاقت، هر ډول استعداد او ابتکار دلالت کوي او البته، چې دځيني مشرانو د اعمالو په رښتينولی به بې باوره شوي او غواړي به خپل تاريخي مسئوليت او رسالت، په دې حساسو شېبو کې، په خپل لاس کې واخلي او په خپل آند او خپله اراده يي عملي کړي او پرې نه ږدي، چې د خپل تاريخي رسالت، خپل سرمنزل ته په رسولو کې يي تأخير راشي او دغه عزم او تصميم د خپل ټولنيز پراخ بنسټه بنياد په اتکاء دتل لپاره تأخير ناپذيره او تغيير نا پذيره وګرځوي.
ځوانان ، په يوه هيواد کې، نه يواځې فزيکي طاقت، بلکه، په خپله ټولنه کې د جمعي شعور، فهم، درک، تعقل او نورو مادي او معنوي لوړو ارزښونو دحقيقت، معياراو محک ګڼل کيږي او خپل تصاميم او رسالتونه په معنوي درايت او فزيکي طاقت، دواړو سره په متوازن ډول، په اسانۍ سرته رسولې شي. اوسنې ځوانان، څرنګه چې د موجوده حوادثو او وقايعو په جريان کې زيږيدلي او رالوی شويدي، هر ظلم او ناروا يي په خپل وجود او ياد ډېر نژدې خواخوږي په ځان تجربه کړې او ځغملې، فکر نه کوم د خپلو مدعيانو او ګناهکارانو په تشخيص او تفکيک کې سهوه اوخطا وکړی او ظلم، ناروا او تعدی خو ځکه حق نه لری، چې تاسې د هغې پر ضد مبارزه کول غواړی او دې ته ضرورت هم نه لری، چې د دنيا په مخ د ټولو کتابخانو، انټر نټ پاڼې، کتابونه، مجلې او اخبارونه ولولی؛ راديو ګانې واوری، تلوېزونونه وګوری او واوري او نورو ډول ډول مطلب اشنا غونډو، کنفرانسونو، سيمينارونو پسې ملک په ملک، محل په محل او کوټه په کوټه سر ووهی، ددغه خود ساخته او خود بافته بې سواده اکادميسنانو، پروفېسرانو، ډاکټرانو، انجنرانو او يا خصوصي سپاره لوستونکو ملايانو، چې اکثراً په ډاکټرۍ او پروفېسرۍ او نورو علمي مقامونو او رتبو، په اعزازي ډول لکه افتخار ي جمهور رئيسانو، صدراعظمانو، مارشالانو، ستر جنرالانو، قهرمانانو په څېر مفتخرشوي، وګرځی، بې شمېره حزبونو، « کلتوري ټولنو» سازمانونو، مطلب اشنا، پېسې چاپوونکو سياسي دکانونو او نورو انساني حېثيت، آبرو، عزت ، وجدان، شرف، ناموس او وقار ذليلوونکو او ضايع کوونکو، . . . عبثومرکزونو ته منډې را منډې او سفرونه وکړی، او خپل قيمت بها وختونه ضايع کړی
تاسې ددې ملک ژوندې تاريخ او د وخت د تقاضا او دخپل رسالت او مسئوليتونو په ټولو نزاکتونو اګاهي لری، تاسې هر څه د خپل وجود په تار او پود، هډ او پوست ځغملي او تجربه کړي دي، تاسې د دنيا په ګوټ ګوټ پردي ملکونو کې د بې کسۍ او بې وسۍ نهر نهورې شپې ورځې تېرې کړي او توهين، تو بيخ او حقارت مود خپلو څخه د پردو او د پردو څخه د خپلو لا زيات ګاللې، ظلمونه، کړاوونه، ناروا، تېرې، تجاوز په خپل ځان او ياپه بل خواخوږي او عزيز، تجربه کړي، ددغه خپلو او پردو ظالمانو او جفاکارانو هېڅ ډول ناروا او تجاوز معرض، پرته ددې مرز وبوم مظلوم انسان او خصوصاً ښځې او اطفالو څخه بل ځوک نه وو خپل وجدان، خپل خدای او عدل انصاف حاضر حضور وګڼی، هغه څه چې مو په ځان نه لورېدل، دنو رو په حق کې يي هم روا مه ګڼی، خو دظالمانو لاسونه د


افغان جرمن آنلاين تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

مظلومانو له ستوني حتماً لنډول او دغه ظالمان د حق او عدالت محکمې ته سپارل په کار دي.
ته افغان ځوان بچې يې او د افغان ستر قهرمان او لس نمايندګي کوې. ستا تاريخ رنګين او د حماسو او وياړه ډک دې . مردار خوري او بې ننګي تا لپاره عاردې، خپل تاريخ د وياړه ډک او سپېڅلې وساته. نن ټول جهانيان بې وسه شوېدې. نن دټول جهان په بې وزله انسان او اولسونو ظلم او ناروا دوام لري. نن يوځل بيا ټول بې وزله نړيوال انسانان او اولسونه، ستا شازلمي تحرک او ديناميزم ته د امېد سترګې راړولې دي. روس دې مات کړ، نن يې د دنياټول اولسونه، نه يوهېږم په کومه بهانه او انګېزه، بل نوم خوورته نه پيدا کيږي، مګر ووايم، چې د ملوک الاقوامي فساد، مخدره موادو کر کيله ، نړيوال قاچاق او اعتياد، په ښځو او اتياکلنو نرو او ډېرو تنکيو ماشومانو جنسي تجاوز ، اختلاس، د ماشومانو، ښځو او نرو تښتونه، رشوت، د مليونونو او مليارډونو ډالرو او ملي شتمنيو خارج ته تختول، يا هر نارواکار د جمهور رئيس، معاونينو، وزيرانو، دپارلمان رئيس، د پارلمان غړو، واليانو او بل هر يوه کس پورې روا ګڼل او يا په يوه کلمه کې، انډوخر لپاره راټول کړي او همدغه ډول يوه لوبه د ا يوولسم کال دې، چې په ملک کې روانه ده او غواړي ستاپه ملک کې، سر له نوي د ځنګل د قانون په بنياد او يا کاملاً بې قانونه او بې مفهومه همغه نړيوال بېن الا قوامي انډوخر او انارشيستي نظام د بنسټ تيږه کښيږدي او تور يې په تا پورې کړي. ايا د يويشتمې پېړۍ د علمي، تخنيکي او اقتصادي پرمختګونو، د اسلام د مقدس دين، سوسيال دمو کراتيزم، د بشر د حقوقو او نورو بې شمېره ذيروحو موجوداتو حقوقو ته دپاملرنې او توجه تقاضا همدا ډول ده؟ نن امريکايې، اروپايې، اسيايې او ددې نړۍ د بل هر لرې پراته کنج انسان هک پک پاتې دې، چې دا جاهل او احمق انسانان دا ډول دا ښکلې او دهر ډول نه خلاصېدونکو نعمتونو ځخه ډک جهان ولې، دا ډول په بې رحمۍ سره ورانول غواړي ؟
هو! نن ددې جهان ټول انسانان، ځوک له مستۍ او ځوک له بې وسۍ د خدای په لوی غضب اخته دي، د امېد سترګې يې تاته در اړولې او يوځل بيا غواړي جفاکارانه تا دخپلو ناوړه او ناروا اهدافو لپاره قرباني کړي. دهرې پديدې انګېزه او تحرک تل په افغان او افغانستان پورې تړل شوې او د انعطاف په ککلېچونو او افقونو کې د هر سرښت او بطالت د ديناميزم لپاره، خو همېشنې علت يواځې افغان او افغانستان پاتې شوې او نن هم ته په حقه را پاڅېدلې يې، دغه ملوک الاقوامي انډوخر، چې يې ستا په ملک او ټوله نړۍ کې جوړ کړي او دټولو ځخه يې د حل لار ورکه ده، ټول در ځخه تښتي او يو ځل بيا تا خپلو سړي خورو ښامارانو او ځناورو ته پرېږ دي او دوی به له لرې د ځار د دور بينونو ځخه خپله ننداره او خوا يخې کوي، بله چاره دې څه ده؟ پرته له دې، همغسې، چې دې تصميم نيولې او عزم دې کړې، قدم په وړاندې، د خپل مظلوم انسان او ټول نړيوال بې وسه انسان په دفاع او نجات کې، دعدل، انصاف او قانونيت تر تحقق او حق حقدار ته د سپارلوتر سرحده پورې! ايا ته کولې شې د هغه ټولو جنايتونو مسئوليت په غاړه واخلې، کوم يو چې نړيوالو جنايت کارانو او ستا خپلو خاينو افغانانو، ستا په ملک کې سرته رسولې، په غاړه واخلې؟ ايا ته دا منلې شې، کوم خپل او پردي جنايتونه، ظلمونه او ناروا، تحقيرونه، . . .، چې تا په نژدې نيم قرن کې په ځان ځغملې، ستابچيان يې هم وځغمي او که ته د ځان سپين مخې ونه کړې، تاريخ ته به مختورې پاتې يې، ستا بچيان هم مختوري پاتې شي؟ نه! ته حق نه لرې. پلار نيکه دې له دې ځخه په ډېرو بدو شرايطو کې، په تش لاس، دډېرو لويو ظالمانو سره جنګيدلې او تاته يې ازاد هيواد، پرته له کوم پېغوره په ميراث پرييښې دې. ته هم بايد دغه رسالت په آمانتدارۍ او ايماندارۍ سره سر ته ورسې! مغسې، چې په دې جهان کې هر ملک او اولس ځانګړې د وياړه او يا د شرمه ډک تاريخونه لري، د هر انسان ځانګړې تاريخ هم له نېکه مرغه ياله وياړه ډک او ياله بده مرغه د شرمونو او خجالتونو ډک دې. ته کولې شې ددغه پردو شرمونو او خيانتونو تور په خپله غاړه واخلې او خپلو بچيانو ته يې په ميراث پرېږ دې؟ نه! داحق هم نه لرې ! پخپله کولې شې هر شرم او تور په ځان ومنې. دا ستا شخصي مرزي او هوډ پورې اړه لري، خو حق نه لرې، راتلونکي نسل ته تور تاريخ پرېږدې. او که دې پرېښود، په همدغه تور نامه به دې يادوي.
ته ولې دغه ډول تورونه او شرمونه په ځان ومنې؟ ته خو ددې ټولو حقايقو شاهد يې، ټول تاته معلوم دي، ټول تا په ځان ځغملې دي، وېره دې په څه کې ده، چې سپيناوي ته يې نه راباسې، پرېږده، چې هغه پرې وشرميږي، چې دغه د شرمه ډک کارونه يې کړي او لا کوي يې. د خلکو له ذهن، شعور، درک او قضاوت ځخه هېڅ شي پټ نه شي پاتې کېدلې. اولسي او وطني تاريخونه، خو هر چا ليکلي دي. راشه په تاريخ کې، د افرادو او ااشخاصو په نومونو د تاريخي اتلانو او شازلمو وياړونو د ډک تاريخ نوې باب، فصل او متودو لوژي پرانيزه او له دې شرم حضور ځخه هم تېر شه، دوی، چې په خپلو شرمونو نه شرميږي، د کلي، کورهم وطن، ورور، تربور او نړيوال ځخه، سترګو په سترګو هم شرم نه لري او غواړي د افغان د وياړه ډک تاريخ، چې حتا نړيوال پرې وياړي، تر ابده شرمېدلې پرېږدي، ښه به داوي د دوی دغه شرمونه د همدوی په نومونو په تاريخ کې ثبت پاتې شي.
هو! اول خپل تاريخ مردانه وار، په ايماندارۍ او آمانت دارۍ سره وليکه اوبيا د ورو، که خيانت يې کړې وي ، رسوا يې کړه او ورپسې ددغه خاينانو جنايتونه ټکي په ټکي او کلمه کلمه ورپسې وليکه، خو د شرم او خيانت ځالې په هيواد کې مه پرېږده! که همدا روش او اصول دې خپل کړل او ربښتينې وې.
الله دې مددګار او برې دې په نصيب دې. پای

---


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ